د ټاکنو خپلواک کمیسیون
کمیسیون مستقل انتخابات
ریاست دارالانشاء

تعدیل

# د ولسمشریزو ټاکنو لپاره د لنډ مهاله ټاکنیزو کارکوونکو د ګمارنې لایحه

## اساس

لومړۍ ماده:

دغه لایحه د ټاکنو قانون د ۱۰۸ مادې د حکم پر بنسټ او د ۲۳، ۲۴موادو او ۱۹مادې د (۱) فقرې د دریم بند د حکمونو په پام کې نیولو سره، د ټاکنو خپلواک کمیسیون (وروسته له دې کمیسیون) له خوا تصویب شوې ده.

## موخه

دوهمه ماده:

دغه لایحه د ۱۳۹۸ کال د ولسمشریزو ټاکنو د لنډ مهاله ټاکنیزو کارکوونکو د ګمارنې اړونده چارې تنظیموي.

## د لنډمهاله ټاکنیزو کارکوونکو ګمارل

دریمه ماده:

(۱) کمیسیون د ټاکنو په بهیر کې دوه ډوله لنډمهاله کارکوونکي ګماري.

**الف: د ټاکنو د ورځې لنډمهاله کارکوونکي:** د ټاکنو د ورځې کارکوونکي لېږ تر لږه د ټاکنو له ورځې دوه اونۍ مخکې ګمارل کیږي او د رای ورکولو او رای شمیرلو د مرکزونو او محلونو کارکوونکي تشکیلوي. دغه کار کوونکي د کمیسیون له غوښتنې سره سم خپلو دندو ته حاضریږي، لنډ مهاله ټاکنیز کارکوونکي په ټاکنیزو مرکزونو او محلونو کې د دغې لایحې او هغه طرزالعمل د احکامو پربنسټ چې د کمیسیون لخوا وضع کیږي، ګمارل او دنده ورکول کیږي.

**ب :لنډ مهاله ټاکنیز کارکوونکي:** لنډ مهاله ټاکنیز کارکوونکي د ټولو ټاکنیزو بهیرونو د مخکې بیولو په موخه ګمارل کیږي، دغه کارکوونکي د عملیاتي پلان پربنسټ، د ټاکنو قانون، د دغې لایحې، اړونده طرزالعمل، د کمیسیون د مصوبو، اړونده دندو لایحو او نورو اړونده قوانینو کې لیکل شویو شرایطو له مخې،د هغوی له منځه ګمارل کیږي.

(۲) د ولایت په کچه د لنډ مهاله ټاکنیزو کارکوونکو ګمارنه، د اړوند ولایتي دفتر لخوا ترسره کیږي، مګر دا چې کمیسیون په دې اړه بل ډول تصمیم ونیسي.

(۳) د لنډ مهاله ټاکنیزو کارکوونکو ګمارنه د آزادي سیالی له لارې ترسره کیږي، د دغو کارکوونکو په ګمارنه کې کمیسیون د د ګمارنې د قانوني پړاونو تیرولو، د دندې اعلان، د غوښتنلیکونو په ترلاسه کولو، شارت لیست، په آزموینه اخیستنه، مرکه او د وړ کس د ټاکلو په بهیر کې بشپړه روڼتیا، د خپل کار اساس ګرځوي، په استثنايي حالاتو کې کمیسیون وړ تصمیم نیسي.

(۴) د ټاکنیزو لنډ مهاله کارکونکو ګمارل، په شپږمه ماده کې د درج شویو شرایطو برابر یا مطابق به د هر ډول تعصباتو لکه مذهبي، عقیدتي، ژبني، قومي ، نژادي، سیمه ایز او داسې نورو نه په واټن کې به د قومي ګډون په پام کې نیولو سره صورت نیسي.

د ټاکنو خپلواک کمیسیون
کمیسیون مستقل انتخابات
ریاست دارالانشاء

(۵) د کارکوونکو په ګمارنه کې که چیرې د دې مادې په (۴) فقره ذکر شوي مندرج عوامل داخل وي متخلف له دندې ګوښه کیږي او قانوني چلند ور سره تر سره کیږي.

(۶) اړونده ریاستونه د بشري سرچینو د ریاست سره په همغږۍ سره، د ټاکنو د ورځې د لنډ مهاله کارکوونکو او د ټاکنیزو لنډ مهاله کارکوونکو د دندو لایحې ترتیبوي، د دندو دغه لایحې باید د هغوی د فعالیتونو، نومړ او د بست شرایط واضیح او مشخص کړي.

## د ګمارنې خنډونه

څلورمه ماده:

(۱) د سیاسي احزابو مسؤلین او په اساسي قانون او د ټاکنو په قانون کې د لیکل شویو انتخابي څوکیو نوماندان نشي کولای چې د ټاکنو د دایمي او لنډ مهاله کارکوونکي په توګه وګمارل شي.

(۲) د ټاکنو دایمي یا لنډمهاله کارکوونکي نشي کولای چې د دندې د تصدی په وخت، خپل ځان نوماند کړي.

(۳) د نوماند پلار، مور، نیکه، نیا، اولاد، ورور، خور، خاوند او میرمن نشي کولای په اړونده ټاکنیزه حوزه کې(هغه حوزه چې شخص په کې د نوماند په توګه ګډون کوي) د ټاکنیز کارکوونکي په توګه دنده ترسره کړي.

(۴) د دغې مادې په (۳) فقره کې مندرج کسان نشي کولای چې د کمیسیون په مرکزي دفتر کې وګمارل شي، که چیرته د ټاکنو په جریان کې د مرکزي دفتر برحال کارکوونکي وي، د کارکوونکي په موافقې سره د کمیسیون ولایتي دفترونو ته په خدمتي توګه استول کیدای شي او که موافقه ونکړي، مؤقت کارکوونکی باید له خپل دندې استعفا ورکړي.

(۵) د کمیسیون د ولایتي دفتر رئیس د اړونده ولایت(د تابعیت تذکرې له مخې د اوسیدو اصلي ځای) څخه نشي ټاکل کیدای.

(۶) هغه کسان چې د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون له لوري په ټاکنیزو برخو کې له کار کولو منع شوي وي، نشي کولای چې د ټاکنیز کارکوونکي په توګه وګمارل شي.

## د رای ورکولو مرکزونو او محلونو د کار کوونکو د نومړ جوړل

پنځمه ماده:

(۱) د ټاکنو د ورځې لنډ مهاله کارکوونکي د رای ورکولو په مرکزونو او محلونو کې په دنده ګمارل کیږي او د کاري پلان او اړونده دندو د لایحې سره سم، خپلې دندې ترسره کوي.

(۲) کمیسیون د ګمارنې د پلان سره سم په ټاکلي وخت، د رای ورکولو محلونو او مرکزونو د شمیر په پام کې نیولو سره، د رای ورکوني محلونو لپاره د ټاکنیزې حوزې په تفکیک سره، د اړتیا وړ ښځینه او د نارینه کارکوونکو نومړ ترتیب او ګماري یې.

(۳) د بشري سرچینو ریاست د ټاکنو د ورځې د کارکوونکو بشپړ نومړ چې دهغوي د فردي مشخصاتو او دایمي پتې درلودونکی وي، په دې موخه ترتیبوي او له ځان سره ساتي چې په راتولونکو پړاونو کې د ګټې اخیستنې لپاره چمتو او یا هغوی ته لاس رسی ولري.

## د همکاریو د تفاهم لیک لاسلیکول

شپږمه ماده:

د ټاکنیزو لنډ مهاله کارکوونکو د استخدام په پړاو کې د آسانتیاوو رامنځته کولو او چټکوالي په موخه، کمیسیون کولای شي چې اړونده بنسټونو سره تفاهم لیک لاسلیک کړي. دغه تفاهم لیک،د ټاکنیزو لنډ مهاله کارکوونکو د ګمارنې چارې که په انفرادي او یا کانکوري ډول وي تنظیموي.

دټاکنو خپلواک کمیسیون
کمیسیون مستقل انتخابات
ریاست دارالانشاء

## د ټاکنو د ورځې د لنډ مهاله کارکوونکو د پیژندګلوي کارت

اومه ماده :

( ۱) ولایتي دفترونه، د ټاکنو د ورځي د لنډ مهاله کارکوونکو د اړونده لاربنود پر بنسټ، د پیژندګلوی کارت چاپوي او د ټاکنو له ورځې مخکې یې د هغوی په واک کې ورکوي.

( ۲) د ټاکنو ورځي لنډ مهاله کارکوونکي مکلف دي چې د دندې ترسره کیدو په وخت خپل کارتونه په داسې بڼه وکاروي چې د ټولو لپاره د لیدو وړ وي.

( ۳) د پیژندګلوی له دغه کارت څخه بل هیڅوک ګټه نشي اخیستلای او د پیژندګلوی د کارت لیږد بل چا ته جواز نلري.

## د ګمارنې شرایط

اتمه ماده:

هغه کس د لنډ مهاله ټاکنیز کارکوونکي په توګه ګمارل کیدای شي چې د لاندې شرایطو لرونکی وي.

۱. د افغانستان تابعیت ولري.

۲. د (۱۸) کلنی عمر یې بشپړ کړی وي.

۳. د دندو د لایحې پربنسټ د معتبرو تحصیلي اسنادو او کاري تجربې درلودونکی وي.

۴. د دولتي کارکوونکي، د ګذر وکیل او په کلیو کې له د ندې سم د با اعتبار کس لخوا د لیکلي تضمین وړاندې کول.

۵. د واکمني محکمې په قطعي حکم باندې د جنایت په جرم محکوم نه وي پیژندل شوی.

## د ګمارنې کمیټې

نهمه ماده:

( ۱) د لنډ مهاله ټاکنیزو کارکوونکو ګمارنه د دارالانشاء لخوا او د کمیسیون تر څارنې او کنترول لاندې ترسره کیږي. د کمیسیون غړي کولای شي چې د کار کوونکو د استخدام له بهیر څخه څارنه وکړي.

( ۲) د لنډ مهاله کارکوونکو د ګمارنې پلان د دارالانشاء لخوا ترتیب او د تصویب په موخه کمیسیون ته وړاندیز کیږي؛ د لنډ مهاله ټاکنیزو کارکوونکو په ګمارنه کې د دولت له پالیسیو سره سم د ښځو او معلولو کسانو حقوق په پام کې نیول کیږي.

( ۳) د لنډ لیست، آزموینې او مرکې کمیټې د دارالانشاء لخوا ایجاد او تائید په موخه کمیسیون ته وړاندې کیږي. د لنډ لیست کمیټه د غوښتونکو نوملړ برابروي او د اړونده بست په شرایطو برابرو کسانو نوملړ جوړولو مسؤلیت په غاړه لري. د آزموینې او مرکې کمیټه د پوښتنو جوړولو، د تحریري او تقریري آزموینې د اخیستنې تنظیم، د پراونو طی کولو او پایلو اعلان مسؤلیت په غاړه لري.

( ۴) یاده هره یوه کمیټه په مرکزي دفتر کې د بشري سرچینو ریاست د یو با صلاحیت استازي او د هغې برخې چې کارکوونکي ورته ګمارل کیږي تر ریاست لاندې جوړیږي او یو بل غړي د دارلانشاء ریاست لخوا د حقوقو له ریاست څخه ټاکل کیږي. که چیرته بست د حقوقو ریاست اړوند وي په هغه صورت کې یو غړی د پلان ریاست څخه ټاکل کیږي.

( ۵) د جندر آمریت کولای شي چې د استخدام کمیټې ته یو کس د دغه آمریت د استازیتوب لپاره، د څارونکي غړي په توګه ور وپیژني.

( ۶) د ګمارنې کمیټه د دغې لایحې، د اړونده طرزالعمل او لاربنود پر بنسټ فعالیت کوي او د خپلو کړنو په اړه وروستی راپور د دارالانشاء ریاست له لارې کمیسیون ته وړاندې کوي.

( ۷) د بشري سرچینو ریاست د هغو کسانو چې د ګمارنې کمیټې لخوا د وړتیا او د ښځو او معلولیت لرونکو افرادو حقوقو او امیتازاتو په پام کې نیولو سره، د سیالی د ګټوونکي، د مقررۍ وړاندیز د منظورۍ په موخه د دارالانشاء ریاست ته وړاندې کوي.

( ۸) د بشري سرچینو ریاست، په مرکزي او ولایتي دفترونو کې د ګمارنې په پراونو کې د روڼتیا او د شائسته سالاري اصل د تامین په موخه د قوانینو، لوایحو او اړونده طرزالعملونو د احکامو د رعایت مسؤلیت په غاړه لري.

د ټاکنو خپلواک کمیسیون
کمیسیون مستقل انتخابات
ریاست دارالانشاء

## تحريري او تقريري آزموينه

لسمه ماده:

(۱) د تحريري او تقريري آزموينې پوښتنې د آزموينې له اخيستو، يواځې يو ساعت مخکې د معتبرو منابعو څخه په ګټې اخيستنې سره د آزموينې کميټې لخوا جوړيږي.

(۲) د آزموينې کميټه د آزموينې له ترسره کيدو ليږ ترلږه دوه ساعته مخکې قرنطين کيږي تر څو ونشي کولای د اړوند کار پرته هيڅ ډول غږيزه او ليکلي اړيکه له بيروني کسانو سره ټينګه کړي.

(۳) پوښتنې په ملي ژبو ( پښتو او درى) جوړيږي او هر څوک چې په هره ژبه بشپړ واک ولري کولای په هغې ژبې پوښتنې ځواب کړي.

## د روڼتيا تامين

يولسمه ماده :

(۱) کميسيون کولای شي چې د ولايتي دفترونو د کارکوونکو د ګمارنې بهير چې د قرارداد موده يې له يوې مياشتې زياته وي او يا د خالي بستونو شمير يې له (۱۰) زيات وي د اړوند طرزالعمل په مطابق له مرکزي دفتر څخه د څارنې پلاوى ولايتي دفترونو ته د څارنې په موخه، واستوي.

(۲) د ګمارنې په پړاو کې د روڼتيا په موخه، د څارونکو او ليدونکو بنسټونو استازي هم کولای شي چې په دې پړاونو کې ګډون ولري.

## د کانکور آزموينې له لارې ګمارل

دولسمه ماده:

(۱) کميسيون کولای شي چې د خپل د اړتيا وړ کارکوونکي د کانکور آزموينې له لارې وګماري.

(۲) د کميسيون د تائيد په صورت کې چې د کانکور له لارې آزموينه اخيستل کيږي د دارالانشاء رياست د کانکور له لارې د ګمارنې زمينې برابروي او اړوندو دخيلو بنسټونو سره اړينې همغږۍ رامنځته کوي.

## د لنډ مهاله کارکوونکو معاشونه او نور امتيازات

ديارلسمه ماده:

(۱) د راى ورکولو محلونو د کارکوونکو تشويقي امتيازات د ورځو په حساب د قرارداد په پای کې ورکول کيږي.

(۲) د لنډ مهاله ټاکنيزو کار کوونکو ورځنى معاش او نور امتيازات له مخکې ټاکل شويو معيارونو په اساس ورکول کيږي.

(۳) د ټاکنو د ورځې د لنډ مهاله کارکوونکو ورځنى معاش او امتيازات د دندې د ګواښ مسؤليت، اوږدو کاري ساعتونو او د کار ارزښت ته پام سره، په داسې بڼه ټاکل کيږي چې د هغوی د قناعت لامل شي.

(۴) کميسون ماليې وزارت سره په همغږۍ، د لنډ مهاله ټاکنيزو کارکوونکو د استخدام او د معاشونو د ورکړې لپاره د اړتيا وړ بودجه برابروي. د لنډ مهاله کارکوونکو د معاشونو کچه د بشري سرچينو رياست، د مالي او اداري رياست او دارالانشاء رياست سره په تفاهم او د کميسيون له تصويب وروسته ټاکل کيږي.

(۵) د لنډ مهاله کارکوونکو د مياشتنيو معاشونو کچه بايد د کميسيون لخوا تائيد شي.

د ټاکنو خپلواک کمیسیون
کمیسیون مستقل انتخابات
ریاست دارالانشاء

## مسؤلیتونه

څوارلسمه ماده :

(۱) ټول لنډ مهاله ټاکنیز کارکوونکي د ګمارنې د پړاونو تیرولو څخه وروسته، د ټاکنیز کارکوونکو د ژمنلیک په لاسلیک او رعایتولو مکلف دي.

(۲) ټاکنیز کارکوونکي له خپل ټولو کړنو او فعالیتونو څخه ځواب ویونکي دي او د رسمي دندې پای ته رسیدو په صورت کې پوښتنې مطرح کیږي، هم ځواب ویلو ته اړ دي.

(۳) که چیرته د ټاکنیز کارکوونکي لخوا تخطي او تخلف ترسره شي، کمیسیون اسنادو او اثباتیه مدارکو ته په کتو سره، د کارکوونکي د معاش په نه ورکړې او یا له دندې په لیرې کیدو او د قانون احکامو د نقض په صورت کې د ټاکنو قانون د ۲۳مادې (۴) فقرې پر بنسټ، تصمیم نیسي.

(۴) د ټاکنو ورځې لنډ مهاله کارکوونکي، د کمیسیون د ولایتي دفترونو کارکوونکي دي چې خپل اړونده دندې د ولایتي دفترونو تر اداري او مدیریت لاندې ترسره کوي. د اړونده ولایتي دفترونو چارواکي، د ټاکنو په ورځ په دنده ګمارل شویو ټاکنیزو کارکوونکو په کار کې د پاتې راتلو او غیابت په اړه، ځواب ویونکي دي.

## له قوانینو سره مطابقت

پنځلسمه ماده:

د دغې لایحې هیڅ یو حکم د نافذه قوانینو له احکامو سره په ټکر کې نه تعبیر او نه هم تفسیر کیدای شي، د مغایرت په صورت کې د اړونده قوانینو احکام د پلي کیدو وړ دي.

## انفاذ

شپاړسمه ماده:

دا لایحه د تصویب له نیټې څخه نافذه او خپریږي.